## په افغانستان کی 2001 کال را په دی خوا د مدنی دینی ټولنی د فعالینوله پامه غورځیدل

په افغانی ټولنه کی دین دیوی با نفوذه قوی په توګه د خلکو په ورځنی او سیاسی ژوندکی په ځای پاته شوی، خو په نړیوالو خبرو اترو او دملک دسولی او بیارغاونی په عملیه کی د طالبانو له ماتی ورسته د دین ذکر دیوی متنفذی پدیدی په عنوان کم په نظر راځی. ځکه د پالیسی جوړونکو خبرو اترو په ترځ کی علما او د دینی تاسیساتو غړی ډیر کم لیدل کیږی. په داسی حال کی چی نړیواله ټولنه د افغانی مدنی ټولنی ټینګښت یو مهم اصل ګڼی، دینی مدنی ټولنی ته ددوی لږه پا ملرنه پوښتنی راولاړوی.

دینی مدنی ټولنه د پراختیا دکار کونکو، افغانی حکومت، او دنړیوالی ټولنی لخوا په کوم نظر لیدل کیږی؟ دینی مدنی ټولنه دسولی او پراختیا له اوسنی پروسی څخه څه معلومات لری؟ او په عامه توګه څه رول او فعالیت ننني مدنی ټولنه په افغانستان کی لوبوی؟ دی ټولوپوښتنوته په پاملرنی سره د ناروی PRIO د نړیوال انستیتوت څیړونکو د کریس مچلسن CMI انستیتوت او دسولی او پیوستون لپاره د همکاری د ټولنی CPAU تازه څیړنی ترلاس لاندی نیولی چی مهمی پایلی ئی د دی سند په دننه کی تر بحث لاندی نیول کیږی.

داڅیړنه د کندزښار او د وردګو د سید آباد په اولسوالی کی د دوو موردی ارزونو په ترځ کی تر سره شوی چی له ځلویښتو علما و اویو شمیر نورو نظر و وړکسا نو سره مرکی شوی او همدا رنګه په ملی کچه د افغان لوړ پوړو چارواکو، د پراختیا د نړیوالو مو سساتو او له دینی علما څخه معلومات تر لاسه شوی او د موضوع د لاښه وضاحت لپاره له کتابو او نورو معلوماتی زرا یعو څخه هم ګټه اخیستل شوی ده.

**افغانی مدنی ټولنه:**

د مدنی ټولنو رسمی او پر مختللی نهادونه یوه نوی پدیده ده. په افغانستان کی مروج او دودیز جوړښتونه لکه جرګی، شوراګانی، اونوردینی تاسیسات لکه مدرسی، جماتونه او ملا امامان چی د تاریخ په اوږدوکی یی په ټولنه او سیاست کی مهم رول لوبولی. په داسی حال کی چی د جګړو په بهیرکی ډیر رسمی او غیر رسمی نهادونه مخ په زوال شول، سیمه ایزی دینی مدنی ټولنی همداسی مهمی او اغیزمنی په خپل حال په ځای پاته شوی.

په داسی حال کی چی نړیوالی ټولنی په افغانستان کی د سولی او پراختیا پالیسی ته د شکل ورکولو په عملیه کی له 2001 کال څخه کلیدی رول لوبولی، خو له دینی جریانو تو څخه ئی ډیر کم او محدود معلومات در لودل. دونرانو په دی کلونوکی عمدتا د پراختیا له غیر دینی رسمی موسسوڅخه ملا تړوکړ او دمدنی ټولنی د خدماتی رول په تمرکز سره د پراختیا اوبیارغاونی پروژو د موثر تطبیق کونکو په توګه هغوی ته وکتل چی په نتیجه کی ئی د ټولنی دو دیز او مدنی نهادونه د دینی نهادونو په ګډون له پاملرنی وغور ځیدل.

سره له دی چی اسلامی عقیده په بالقوه توګه ټولو افغانانو منلی ده خو ځینی عقیدوی تو پیرونه هم د ملک په دننه کی لیدل کیږی. ددی حقیقت له مخی افغانی دینی مدنی ټولنه هم د نظر په اختلاف له ډلو ټپلو څخه جوړه شوی ده چی په دی ډلو کی اصلاح غوښتونکی، منځ لاری، او حکومت پلوه عناصر، دودیز او محافظه کار، بنسټ پال او د حکومت تندلاری مخالفین دی. نوله همدی امله ټولیزی خبری اتری له ټولو سیالو ډلو سره چی د دین په ژبه خبری کوی موثری تمامیږی.

**دمدنی ټولنی فعالیتونه:**

دینی مدنی ټولنه یولړ فعالیتونه لري چې د مدني ټولنی د فعالینو ترمنځ د دوی د معنوی صلاحیت په نظر کی نیولو او همدارنګه د دوی هغه رول چې د دینی معتقدانو د تلقین په اړه ئی د خلکو ترمنځ لری، له ځانګړی دریځ څخه برخمن کیږی. برسیره پر دی علما کله نا کله په خپلو دینی فعالیتونوبرسیره لاندینی ټولنیز فعالیتونه هم مخ ته بیائی.

## ټولنیز پیوستون

د دینی معیارونو د با صلاحیته ساتونکو په توګه افغان دینی علما او د ټولنی د غړو او نوروګوښیو ډلګیو ترمنځ د نیکو اړیکو د ټینګښت د قوی امکاناتو درلودنکی دی. پاته دنه وی چې ددوی دا دریځ د ډلګیو په ویشلوکی هم همدارنګه اغیزمن دی- یا نی په کومه اندازه چې د علما رول د متخاصمو ډلو ترمنځ د لانجو او تاوتریخوالیو په مخینوی کی اغیزمن دی په هماغه اندازه په ټولنه کی د تاوتریخوالیو او لانجو درامنځ ته کولو توان هم لری.

### *اډووکسی او عامه اړیکی*

دینی عالمان نه یوازی داچې د ملی او عامه مسایلو په اړه خپل نظرونه وړاندی کوی بلکه خلکوته د خبرد خپرولو ښه منبع هم ده، په افغانستان کی جماتونه نه یوازی دلمانځه او نورو دینی فرائضو د ادأ کولو لپاره کارول کیږی بلکه دعامه معلوماتواودسیاسی پیامونوپه خوررلوکی هم مهم رول لری. د جمعی دورځی غونډی عامه افکاروته د علما ولخوا د سمت ورکولو په برخه کی له مهمو مواقعو څخه ګڼل کیږی.

### *د لانجو په حل کی منځګړیتوب*

افغان دینی علما ووتل د لانجو په حل کی مهم رول لوبولی، چی دا امر نه یوازی دا چی علما له شرعی احکامو څخه خبر وی، بلکه دوی د دینی مخکښانو په توګه په وګړنیزجوړښت کی هم د پام وړاغیزمنتوب څخه برخمن دی.

### *واسطه کیدل*

د علماو او ملایانو په دریځ کی نسبی خپلواکی، هغوی په دی توانوی چی د ټولنو او بهرنیو عمالو ترمنځ د مختلفو قضایا و په سر لکه د افغان دولت، نړیوالوموسسو، اوانجوګانو ترمنځ د واسطی کیدو رول ولوبوی.

### *دمنابعو ویشل اود ټولنیز و اړتیا وو پوره کول*

د افغانستان دینی تاسیسات (جماتونه او دینی مدرسی) خپلی کړنی او د ټولنیز و خدماتو تأمین او سرته رسول د صدقو او خیراتونو په ویشلوکی هم تر سره کوی. د روحانیونو اوعلما وو رول د اخلاقی ارزښتو په ټاکنه او ساتنه کی هغوی ته فوق العاده نفوذ وربښی . نو له دی سببه د هغوی د رول او دندو څخه باید په بیلابیلو موارد وکی ګټه واخیستل شی. د مثال په توګه هغوی له حکومت څخه ملاتړ کولای شی او یا هم کولی شی له هغه سره مخالفت وکړی، علما کولی شی د سولی او همکاری د ترویج لپاره په زړه پوری رول ولوبوی او په عین حال کی کولی شی تشنج او تاو تریخوالی هم رامنځ ته کړی. همدا ابهام او د (قلاوی د سر ورکوالی دی) چی د دینی مدنی ټولنی رول د سولی او پخلاینی په پروسه کی ترتولو زیات اړین او حیاتی کوی.

### *تقویه اویا له علما و څخه ګټه اخیستل*

تر هغه بریده چی ملی او نړیوال مرسته رسونکی فعالین د علما وو رول په اوښتونو کی پیژنی کولای شو دا اړیکه یو طرفه و بولو.

***د واقعی خبرو اترو نشتوالی:***

په داسی حال کی چی د هغوی ګډون ډیر کم دی حکومت او دپراختیا نورمو سسات لکه ملګری ملتونه د علما وو په کم رنګه ګډون له هغوی څخه یوازی د خپلو پالیسو او پروګرامو ته د مشروعیت ورکولو لپاره کار اخلی . خود پراختیا د رواجولو په برخه کی ئی د علما وو د خپلواک رول په اړه یا هم دخپل منځی خبرو څخه لږ کار اخیستل شوی چی له دی امله علما و له اوسنی حالت څخه ناخوښی ښو دلو سره ګیله کوی او زیاتوی چی له دوی څخه یوازی هغه وخت مرسته غوښتل کیږی چی حکومت د خپلو پالیسو په تطبیق کی د دوی ملا تړ ته اړتیا ولری.

***فشار او همکاری:***

په افغانستان کی د نوی مدنی ټولنی او دو دیزی مدنی ټولنی د موازینو او ارزښتونو ترمنځ تل تضاد موجود وی خوددی تضادونو سره سره دنوی مدنی افغانی ټولنی فعالین تر هغه بریده چی په پروژوی خبرو اترو او فعالیت پوری اړه لری نسبت حکومت او نړیوالو مرسته رسونکو ټولنو ته فعال رول تر سره کوی.

***له همکاری سره چمتو والی***

له هغه ډلی علما و څخه چی په سید آباد او کندوزکی له هغوی سره مرکه وشوی ډیری ئی د حکومت د پراختیا ئی اجندا په اړخ مثبت نظر در لود. په داسی حال که چی په دی اړیکه کی ځینی نور کم باوره او محتاط ښکاریدل، په ټولیزه توګه هغوی په دی باور وه چی د دینی مخکښانو په عنوان په مثبت ډول د پراختیا په پروسه کی ګډون کولای شی او په دی برخه کی د خلکو ملاتړ را جلب او په پراختیائی پروژوکی مخ په زیاتیدو ونډه اخیستی شی.

- سره له دی چی د زیاتو علما و وڅخه په داسی فعالیتونو کی دونډی اخیستلو غوښتنه نه ده شوی ټول دینی علما حتی ځینی دودیز علما وو دبهیرنی پراختیا پروسی سره تر هغه بریده چی د اسلامی او افغانی رواجونو سره په ټکر کی نه وی موافق نظر درلود.
- زیاتره دینی علما( ټول هغه علما چی په وردکوکی ورسره مرکه شوی وه) په افغانستان کی په بهرینو قوا و سخت نیوکه درلوده . علما د بهرینو پراختیا ئی مرستو او نظامی مرستو ترمنځ تو پیر کولای شوای.
- هغوی په افغانستان کی په بهیرینو نظامی حضور کلکه نیوکه در لوده خو له بهرینو پراختیا ئی مرستو سره همکاری ته حاضر وه او هغه ته ئی ښه راغلاست وایه.

**متناقضی موخی:**

نن دین ډیره سیاسی جنبه ځان ته خپله کړی او د دولت او دین ترمنځ اړیکی د مشاجری سبب شوی.

***د روحانیونو ترمنځ انشعاب***

د روحانی مشرانو حکومتی شورا او یا نوی جوړه شوی دعلما و شورا افغان حکومت ته د دینی مسایلو په اړه دسلا ورکولو رول له پخوا وختو څخه لری . ددی شورا په اړه علما دنظر دتوپیر په بنا په ډول ډول ډلوویشل شوی. د هغه علما و ترمنځ چی په دی مطالعه کی ئی برخه اخیستی حکومت پلوه او منځ لاری کسان په دی باور دی چی عالمان په دی شوراګانوکی دحکومت له پا لیسیو څخه دملاتړ رول مخ ته بیائی. ځینی نور اوپه خاصه توګه دودیز علما په دی عقیده و چی دینی علما باید له حکومت څخه خپلواک وی. هغوی د حکومت پلوه عالمانوته د شک په سترګه کتل او هغه ئی د حکومت له پلوه د علما و په موقف یوه ضربه ګنله. نوله همدی امله په هغو علما و چی له حکومت سر، تړاو درلود سیاسی فرصت غوښتونکی او نامشروع بلل.

***افغانی دینی ښونی:***

په افغانستان کی د ښونی او روزنی دوه بیلابیل سکتورونه موجود دی چی یوئی دینی ښونه ده او بله یی عصری ښونه. په بهرینو مدرسوکی د ځوانانو و روستیو تندلاریتوبونو حکومت دیته اړویست چی په ددی ستونزی په وړاندی په بدیل نوبښت لاس پوری کړی نوځکه په دی وروسیتوکی دښونی او روزنی وزارت د دینی مدرسو لپاره نوی داسی پروگرام ترلاس لاندی نیولی چی له امله به ئی د دینی مدرسو په نصاب کی عصری مضامینو ته هم ځای ورکړل شی. دینی زده کړی یوه د مشاجری وړ موضوع ده په دی مانا چی ځینی حکومتی کړی غواړی معمول نصاب د اوسنی نصاب په ځای رواج کړی چی په هغه کی عصری مضامین هم شامل وی چی ددی له امله د دینی تعلیماتو څرنگوالی د مشاجری وړ موضوع په څیر را څرگند شوی. په داسی حال کی چی علما غواړی چی دا موضوع د مدرسو په صلاحیت کی وی چی په خپل درسی نصاب کی څه ځایوی. له حکومت او دهغوی د بهرینوملاتړ کونکو څخه د نا رضایتی مخ په زیاتیدو لړی ددی سبب کیږی چی دینی علما دی پروسی ته د شک په سترگه وگوری نوله همدی امله وړاندیز کیږی چی له داسی مسایلو سره د مخامخ کیدو په صورت کی باید د ټولنی حساسیتونه په نظر کی ونیول شی.

***له ملک څخه د باندی دینی زده کړ***

افغانی طالبانو ته د شورشیانو لخوا په خپلو لیکو کی ځای ورکول او افراطی گرایئ ته د هغوی هڅونه، حکومت او مدنی ټولنه دی نتیجی ته ورسوله چی په ملک کی دننه د با کیفیته دینی مدرسو نشتوالی ددی سبب شو چی هغوی له ملکه د باندی په درس لوستلو پسی ولاړشی. ددی څیړنی په پایله کی موږ دی نتیجی ته ورسیدو چی بهرینو مدرسو ته د ځوانانو مخ اړول نور زیات لاملونه او انگیزی هم لری او په دی اړه چی ولی ځوانان بهرینو مدرسو ته مخ اړولی موږ لږ معلومات لرو. له دیری دینی علما و خخه چی په سید آباد او کندز کی ورڅخه مرکی واخستیل شوی خپلی زده کړی ئی په نسبی او یا مکمل ډول په افغانستان کی د ننه سر ته رسولی وی په داسی حال کی چی بیله شکه داسی مدرسی وجود لری چی ځوانان افراطی گرایی ته هڅوی او په حاضر حال کی په بهرکی ډول ډول مدرسی وجود لری چی افغان ځوانان په هغه کی زده کړی کوی چی په بهرکی د زده کړو دا بهیر خامخوا په افراطی گرایی د هغو ی په ار ولو باندی تامیرږی.

***د خبرواترو نشتوالی:***

سره له دی چی د مرستی رسولوډیر ملی او نړیوال مو سسات ددینی مدنی ټولنی رول او امکانات یوه مهمه او جوړونکی پروسه بولی خوبیاهم د هغوی ترمنځ د پام وړخبرو اترونشتوالی لیدل کیږی، ولی؟

- د بلدتیا نشتوالی: د مرسته ورکونکو هیوادونوله علماوو سره د خبرو اترو دپیل کولو په څرنگوالی نه پوهیدل او همدارنگه دیوه ملک سیاسی حساسیتونه هم ددی سبب کیدای شی چی دینی مدنی ټولنی سره مفاهمی ته درسیدو مخینوی وشی.
- د تندلارو په عنوان د مدرسو د عا لمانو انگیرل، د هغوی گډون په مدنی ټولنه کی د همکار په توگه عملاً ستونزمن کوی.
- د حکومت په دننه او نړیوال ټولنه کی دا تصور موجود دی چی علما په بنستیزه توگه نوی والی او عصریتوب سره مخالفت لری او ځینی بیا له دی ویریږی چی په دی پروسه کی د علما و گډون د هغوی د قوی کیدو، پیژندگلوی او ددوی د رسمی حیثئت د پیدا کیدو سبب کیږی.

***په دینی علما وو تنگتیا راوستل:***

- په افغانستان کی د تاوتریخوالی زیاتوالی د منځ لاروعلماولپاره د فعالیت زمینه لږوی. هغه دینی مخکښان چی له حکومت او طالبانو دواړو څخه ملاتړنکوی د دواړو لخوا تر حملو لاندی راځی ځکه چی ډیری له

دی منځ لارو په دینی او غیر دینی ټولنوکی ښه نفوذ لری خوله خطرناک موقف څخه برخمن دی ځکه هیڅوک له دوی څخه محافظت نکوی.

***تندلاری پالنه: هغه رسالت چی موږئی سرته رسوو***

دعلما له صحنی ایستلو پالیسی له دی ویری چی نفوذ ئی په خلکو کی منفی تاثیرونکړی ددی خطر لری چی هغوی د منفی لوری ته د خپل رول په لوبولو اړباسی. څرنگه چه هغه علما چی له حکومت او لودیځو مرستندویو ادارو سره همکاری کوی په خطرناک حالت کی قرار لری، دا ډیر مهم امر دی چی د حساسیتو په نظر کی نیولو سره له دی ډلی سره مثبته مفاهمه پیل شی.

**سپارښتنی:**

***دین دیوی داخلی موضوع په عنوان:***

ډیری افغانان، حتی هغه چی نړیوالو مرستوته په نیک نظر گوری دینی ارزښتونه او ددویز فرهنگ یوه خوندی داخلی موضوع بولی او په ده کی هر ډول بهرنی او یا د غیر مسلمانو هیوادو مداخله نه منی، چی دا موضوع دښونی او روزنی او قانون جو رولو په برخه کی په څرگند ډول لیدل کیږی. په دی برخه کی دی د اسلامی هیوادو تجربو څخه مثبته گټه و اخیستل شی، په هر حال دا په دولت او مدنی ټولنه پوری اړه لری (ددینی مدنی ټولنی په گډون) چی د دین او دولت د اړیکو د څرنکوالی په اړه مخکښ رول و لوبوی. که چیری دلته د نړیوالی اسلامی ټولنی لپاره رول وجود ولری تنها هغه به د دینی پوهی د زیاتوالی په برخه کی وی هغه هم د څیړنو او د معلوماتو د تبادلی په و اسطه.

***<u>په خبرو اترو کی شاملول:</u>***

خبری اتری د مقابل لوری (یایودبل) د موقف د پوهیدلو راپوهیدلو په ما نا دی. علما باید د پراختیا له اصلی مفاهیمو سره ځان بلد کړی، مخصوصاً د بشر د حقوقو په مواردو او ددموکراسی په رامنځ ته کیدو، یا نی په هغو مسایلو کی چی هلته د نظر تو پیر وجود ولری اونا سم تصورات رامنځ ته شوی وی، چی ناوړه پا یلی به له ځان سره ولری. د پراختیا فعالین او دسولی ساتونکی د دواړه که حکومتی وی اویا غیر حکومتی خپله د پوهی کچه د دینی امورو په اره په افغانستان کی لوړه کړی .

***<u>دگټورو خبرو اتروپیل:</u>***

ځینی موسسی په بریالی توگه له ځینو مهمو موضوعاتو لکه مدنی ښونو او نور د پراختیا ئی پروژه و په ذریعه له علما و وسره د پوهیدو را پوهیدو د شروع کیدو په عنوان د پیل د نقطی په توگه کار اخلی. بله طریقه دخیریه مرستو او صدقو ویشل کی له اسلامی طرز څخه گټه اخیستنه دی چی په هغه کی علما خپل رول په اوږ د مهالی او جوړونکی توگه ووینی. دداسی طریقه په جوړولو اولاره اچولوکی باید افغان حکومت د نورو اسلامی هیوادو له تجربو څخه په گټی اخیستلو سره خپل مهم رول ولوبوی. همدا رنگه لکه چی محلی دینی مدرسی د ښونی په خورولوکی مهم رول لری حکومت هم باید په خپلو اوسینو نوښتونو چی ددینی او عصری تعلیماتو دنیږدیوالی په برخه کی زیاتوالی وکړی.

***<u>دعلمی بنستونو تقویه:</u>***

نن ورځ په افغانستان کی په دین پوهیدول یوډیر مهم اصل دی، دا ددی لپاره چی په دین د پوهیدلو پواسطه کولای شو هغه ننگونی چی په مدرسو او نورو دینی تاسیساتو کی وجود لری و پیژنو. په دی هم باید وپوهیږو چی دینی

علما و په څه ډول قدرت لرونکی عناصر تر خپل نفوذ، فشار او یا معاملی لاندی راوستی شی. د علما وو په دایره کی تر هغه بریده چی لیدل شوی پخپله علما هم یودبل د لوړدریځ محدود ولو لپاره د نورو تر نفوذ لاندی ځان ورکوی ترڅو چی خپلی خصوصی ګټی هم په لاس راوړی.

**پایله:**

په افغانستان کی له دینی علما و سره د خبرو اترو او ا ړیکو نیولو دپیل لپاره هیڅ پروګرام وجود نلری. په پروسه کی د شاملو افراد و ترمنځ ژور تو پیرونه وجود لری، دیوی قریبی نه تربلی او له یوی سیمی تربلی او همدارنګه له یوی فقی تربلی پراخه اختلافونه موجود دی. دا چی څه ډول په یوه خاصه او ځانګړی موقع کی له علما وو سره مفاهمه کیدای شی لازمه ده چی له دوی څخه ئی د فرد ی تحلیل په بنسټ دا کار تر سره شی. دا مطالعه وکولای شول چی ځینی ګډی نقطی په طرفینو کی پیدا کړی او ټینګار کوی چی ټولی هغه ملی او نړیوال موسسی او نور افراد چی له افغانی مدنی ټولنی څخه ملاتړ کوی د علما وو رول د مدنی ټولنی د یوه فعال غړی په توګه تصدیق او هغه په رسمیت و پیژنی. علما په او سینو شرایطو کی خپل ځان تر جدی فشار لاندی ګنی. په داسی حالیکه چی شورشیان علما وخپل ته وفاداری ښی هغه مهمی موسسی چی د افغانستان د پراختیا او عصریتوب په چوپړلګیاه دی د علما وو د نظریاتو له اوریدو څخه په تردد کی دی اونشی کولای له هغوی (علماو) څخه ساتنه وکړی. علما دسولی دپروسی د قوی کیدو او بر عکس د هغه د ړنګولو له فوق العاده قدرت څخه برخمن دی، خوداچی دوی له دی رولونو څخه کوم یو خوښوی له دی سره اړیکه لری چی نوروجوانب په پروسه کی د علما ود ګډون لپاره زمینه برابره کوی او کنه.

**د زیاتو معلوماتو لپاره:**

میرویس وردک، ادریس زمان، کنشکا نوابی 2007 د مدنی ټولنی رول او فعالیت په افغانستان کی څیړنی په کابل وردکو او کندز کی – کایا بروشروینک- 2007 ددینی او مدنی ټولنی فعالین د 2001 را په دی خوا په افغانستان کی د پراختیا په منظر کی (اوسلو)